U.S. DEPARTMENT OF STATE
Office of the Spokesman

---

For Immediate Release — March 22, 2010
2010/335

## د سکرتر کلینتن بیان

د یوم پاکستان په مناسبت د رئیس جمهور اوباما او د متحده ایالات امریکا د ولس د اړخه زه د پاکستان ولس ته د پاکستان د ورځې په لمانځلو مبارکي ورکوم. تقریباً اویا کاله وړاندې وګړي چې وروسته بیا د پاکستان جوړونکي شول په لاهور کې یو ځای شول او ستاسو د قوم د جوړښتت بنا یې وتړله.پاکستاني قوم زما زړه ته ډېر نژدې دی. او ماته دا افتخار حاصل دی چې تېر شوي کلونو کې زه دلته پنځه ځله تللي یم. ما په خپلو سترګو لیدلي دي چې ستاسو وطن څومره ښه دی. چې د تاریخ، کلتور، قدرتي حسن او د خلکو د نه هېرېدونکي ګرمجوشۍ او پښتګۍ لرونکی دی.

دا زما لپاره د افتخار وړ دی چې دلته کې زه دپاکستان د خارجه چارو وزیر قریشي او نورو پاکستاني چارواکو ته چې په واشنګتن کې د پاکستان او امریکې ړومبی وزارتي لیول ستراتیجیک ډایلوګ (خبرو اترو) د پاره هرکلی وایم. امریکا د پاکستان هغو هڅو چې د جمهوري ادارو د استحکام، معاشي ترقي- پراخه موقع او د هغه شدت پسنده ډلې چې د پاکستان نړۍ او امریکا لپاره خطر دی. زمونږ پراخه ملګرتیا دیو بل په احترام او د یوبل په ګټه بنیاد لري. او د دواړو نړیوالو هېوادونو ترمنځ د نورو نژدې اړیکو موقع په لاس راولي. نن ستاسو هېواد د ترهګرۍ له لاسه ځپل کېږي. او ستاسو قوه او ولس د شدت بندۍ په ضد عظیمې قربانۍ ورکویدا د امریکا ولس د پاکستان سره ولاړ او د پا کستانیانو یو دا پرامنه او خوشحاله مستقبل لپاره ددوی د هڅو هر قسمه ملاتړ کوي.
مونږ تاسوته د یوم پاکستان مبارکي وایم.

###